# زېرى

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

دوه نۍ(دوشنبه) د چنگاښ ۷ - ۸مه گڼه، پرله پسې (۴۴۷-۴۴۸) مه گڼه، د ۱۴۰۴ل کال د چنگاښ ۳۱مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د محرم ۲۵ مه او د ۲۰۲۵م.کال د جولايي ۲۱مه


ربه! ما لره لـــــه فضل علم عرفان را
د عرفان و بینایی لـــــره چشمان را
زما مخ به وجارباسي لـــــه بد خلقو
په صحبت د عــــارفانو مې گذران را

قاسم علي خان اپريدي


ليکوال: پروفيسور سيال کاکړ
ژباړن: څېړندوی بشرمل زرغون


# د عمر خيام د څلوريزو پښتو منظومې ژباړې

(۲) برخه

هو! مولوي احسان الله خټک پښتو ژبې او ادبياتو ته خپله غاړه خلاصه کړې ده او په پښتو يې ډېر لوی احسان پرې ايښی چې په ړومبي ځل يې ۱۸٦ د خيام څلوريزې يې زموږ گرانې پښتو ته ژباړلې دي او هغه بيا په خپله خپرې کړې دي، په ټوله کې بې له کوم خنډه ويلای شو چې د نوموړي څلوريزې ډېرې زياتې ساده او روانې دي؛ البته په ځينو ځايونو کې يې ژباړه ډېره پېچلې او گونگه معلومېږي او دا ځکه چې مولوي احسان الله خټک په پښتني سيمو کې ډېر گرځېدلی دی؛ نو ځکه يې د ژباړې پر مهال له معياري پښتو ډېره گټه اخيستې ده، د مولوي احسان الله خټک پر همت دې برکت وي چې د عمر خيام ژباړل شوې څلوريزې يې د دې سترې نړۍ پښتو ژبو ته وروپېژندې، ښکاره ده چې تر څو د خيام نوم ژوندی دی؛ نو د مولوي احسان الله خټک نوم به هم ژوندی پاتې وي.

لنډه دا چې خيام نيشاپوری د پښتو معاصرو شاعرانو او ليکوالو په منځ کې ډېر زيات گرانښت لري، کوم خلک چې له پارسي سره بلدتيا نه لري؛ نو کولای شي چې د بېلابېلو ژباړو له لوري چې په خوږه پښتو شوې دي؛ بشپړه بلدتيا پيدا کړي.

هو! خيام په نيشاپور کې زېږېدلی او په همدغه تاريخي ښار کې ښخ شوی دی، د دغه اوځار او ستر فيلسوف شاعر ارامځی د نيشاپور ښار په اړوندو کې دی، کوم خلک چې نيشاپور ته تگ راتگ کوي؛ نو حتماً د خيام ارامځي ته ورځي، له نېکه مرغه زه هم د خيام نيشاپوري ارامځي ته تللی يم، د ايران دولت د دغه لوی پوه ارامځی ډېر ښکلی او ښايسته جوړ کړی، رښتيانې چې د خيام ارامځی د ليدو وړ دی.

**(۲) د عمر خيام څلوريزې**

له مولوي احسان الله خټک وروسته د پښتو په ادبي نړۍ کې ښاغلی ابو الخير ځلاند د اميرجان کاکړ زوی، د محمدرضا لمسی دويم کس دی چې د خيام نيشاپوري څلوريزې يې د پښتو نظم په قالب کې ژباړلي دي، دغه لوی شاعر او غوره ليکونکی د کوټې ښار په مشهوره سيمه (سره غوړگۍ) کې زېږېدلی، نوموړي منځوی زده کړې په (غبرگ) نومې سيمه او لوړې زده کړې يې د کوټې په ښايسته ښار کې پای ته رسولې دي.

بې له شکه ويلای شو چې ښاغلی ځلاند له پارسي ژبې سره بې پايه مينه لري، د يو شو تنو معلومو شاعرانو په لړ کې نوموړی له پارسي ژبې سره بشپړه بلدتيا لري، د خيام نيشاپوري له څلوريزو سره له زړه او ځانه ډېره مينه لري، نوموړي عمر خيام ډېر لوستی او د همدغو څلوريزو تر حکيمانه اغېز لاندې راغلی دی.

ښاغلی ځلاند د کوټې په ادبي کړی(حوزه) کې اوځار ليکونکی او مشهوره شاعر شمېرل کېږي، په ځانگړې توگه د پښتو په ادبي ډگر کې يو لوړ مقام لري، د پښتو په برخه کې يې څو کتابه پنځولي دي، نوموړی د پښتو په ادبي نړۍ کې د خيام پوهنې په برخه کې ډېر اوځارتوب تر لاسه کړی دی.

ښاغلي ځلاند د خيام څلوريزې په پښتو ژباړلې دي او هغه يې د (د عمر خيام څلوريزې) په نامه نومولي، د نوموړي دغه کتاب د کوېټې پښتو اکاډمۍ په ۱۹۸۴ ز، کې چاپ کړی دی، په دغه ياد اثر کې ٦۳۴ د خيام څلوريزې په پښتو ژباړل شوې دي او د دغه شاعر ژباړه ډېره ساده، روانه، په زړه پورې او پښتو گړنې (محاورې) ته ډېره نږدې ده.

کله چې موږ د (عمر خيام څلوريزې) د مولوي احسان الله خټک د (دا دنيا) له کتاب سره پرتله کوو؛ نو د ښاغلي ځلاند ژباړه يو څه غوره برېښي؛ دا ځکه چې ښاغلی ځلاند د پارسي ژبې له حقيقي روح سره ډېر بلد دی او له دې سره د پښتو يو منلی ليکوال هم دی چې په همدې ترتيب نوموړی د خيام د څلوريزو په ژباړلو کې تر ډېره جوت او بريالی راوتی دی.

د ښاغلي ځلاند دغه اثر په کلات چاپخونه کې د ۵۰۰ ټوکونو په اندازه چاپ شوی دی؛ مگر قېمت نه لري، د (عمر خيام څلوريزې) ښاغلي عبدالرحمن الکوزي ليکگري (خطاطي) کړې؛ مگر افسوس چې د نوموړي ليکگري په ياد کتاب کې ډېره کمزورې راغلې ده، دلته بايد وويل شي چې د کتاب په هره پاڼه کې د خيام څلور څلوريزې ځای شوې او ورپسې په بل مخې کې د پښتو څلورو څلوريزو ځای نيولی دی.

هو! د دغه نښير(اثر) مقدمه د پښتو اکاډمۍ رئيس ښاغلي سيد عابدشاه عابد ليکلې او د (دا ترجمه) تر سرليک لاندې د اروانښاد حمزه شينواري د کتاب او ژباړن اړوند خپل نظر روښانه کړی دی، له دې وروسته ښاغلي ځلاند د (زه او خيام) تر سرليک لاندې د عقيدت گلونه يې د دغه ستر فيلسوف (خيام نيشاپوري) د پښتو شعر په بڼه وړاندې کړي، په اخره کې يې گرانو لوستونکو ته د عمر خيام او ژوند په اړه بشپړ معلومات راوړي دي.

په پای کې د ښاغلي ځلاند د خيام ژباړل شوې يوه‌څلوريزه لوستونکو ته وړاندې کېږي:

اين دهر که بود مدتی منزل ما
نامد بجز از بلا و غم حاصل ما
افسوس که حل نگشت يک مشکل ما
رفتيم و هزار حسرت اندر دل ما

* * *

د نړۍ چې په کليو کې اوسېدمه
هېڅ مې و نه ليد په دې کې بې له غمه
يو ارمان مې زړه کې و نه خوت افسوس دی
ارمانونه مې په زړه کې ځينې ځمه

* * *

لنډه دا چې زما دغه پخواني ملگري استاد ابوالخير ځلاند د خيام نيشاپوري څلوريزې په ښکلې پښتو په ډېرې ښايسته بڼې ژباړلې دي، نوموړي له ټکي په ټکي ژباړې ځان ساتلی او د ژباړې پر مهال يې د پښتو له نومونو (اصطلاحاتو) او له نگه ځانگړنو ۲مخ

# پېښې يا پېښې کول (Parody)


جاوېد افتاب


دا لفظ د يونانۍ ژبې د »پيروډيا «نه اخيستل شوی دی چې معنا يې معکوس نغمه ده. دا د چا د شعري مزاحيه او طنزيه پېښو يا نقل کولو ته ويلی شي.(۲۱۷:۳) [پيروډي ته په اردو کې د »تحريف «اصطلاح کارول شوې او په پښتو کې را ته د »پېښې «کلمه غوره ښکاره شوه. يعنې يو ډول طنزي نقل يا تقليد دی.] (ژ)

يو ښه شعر يا کلام په مسخريي ډول تقليدولو ته په ادبي اصطلاح کې پيروډي يا پېښې وايي. نذير احمد شيخ د »حرف بشاش «کتاب د پيروډي په باب کې ورته د »معکوس تقليد «ترکيب کارولی دی. ځينو بيا ورته د ملنډو نقل او هجويه تقليد په څېر ترکيبونه هم کارولي دي.(۴۹:۱)

ډاکټر وزير آغا په اند: »پيروډي (پېښې) د يوې پنځونې يا کلام د داسې لفظي نقل يا پېښو نوم دی چې په هغه کې پر پنځونې يا کلام ملنډې ووهل شي. دا په خپل اوج کې دا موخه لري چې ادبي او ايډيالوژيکي نېمگړتياوې يې را برسېره کړي، خو دا به د يوې زمانې حالات مسخره کړي او يوه لويه موضوع به پر يوې کوچنۍ او خفيفې موضوع بدله کړي يا به يوازې په لفظي بدلونونو سره د خپلې تفريح يا ساعت-تېرۍ له-پاره مواد برابروي.«

ظفر احمد صديقي بيا وايي: »پيروډي هغه ښکلی ژانر دی چې په هغه کې د يو چا د ليکلو طرز په تقليد سره د هغه پر سبک يا فکر ملنډې ووهل شي. پيروډي د يو چا د ادبي ليکنو يا سبک تقليد دی، خو که چېرې يوازې د يو چا د ليکلو د طرز يا سبک تقليد شي، دې ته پيروډي نه وايي.)«(۴۹:۱)

[په پښتو ادب کې طنزيه شاعر گل ملا همکار دا ډول پېښې ډېرې کړې دي، د »خندا گوډی «د همداسې نظمونو ټولگه ده. نوموړي ځينې مشهور شعرونه او نظمونه د پيروډي په بڼه اړولي او د طنز مالگه يې ورگډه کړې. د بېلگې له پاره د گلنار بېگم په آواز د سيف الملوک صديقي دا غزل به مو هرومرو اورېدلی وي:

زه انتظار کومه ستا د سترگو
ولې پناه شوې ته زما د سترگو

گل ملا همکار دا شعر سره داسې اړولی:

ما انتظار کولو ستا د چرگو
تا هگۍ راوړې د بل چا د چرگو(۳۴:۲)

د ادب په نړۍ کې د پيروډي يا پېښو اهميت داسې دی لکه د مصورۍ په نړۍ کې چې د کارټون او کاريکاتور دی. د ادب په نړۍ کې پېښې کول کوم نوی شی نه دی، د نورو ډېرو ژانرونو په-څېر پيروډي هم له يونانه سر راپورته کړی دی. د هومر په حماسو کې چې د سوماوو کومې کارنامې بيان شوې دي د هغو سيورۍ پر ادبي فضا خپور و. د دوی له شهرت څخه گټې پورته کولو او د حماسو د رزميه برخو د سبک او لهجې په تقليد سره هيوناکس د چونگښو او موږکانو جنگ او هيگومن د دېوانو جگړې په ليکلو سره د دوی پيروډي (پېښې) وکړې. په لومړۍ هغې کې د چونگښو او موږکانو سپه سالار د حماسو د ستر اتل په-څېر خبرې کوي.(۴۹:۱)

کله چې د يوې ادبي ټوټې پېښې وشي، بيا يې په ادبي نړۍ کې مشهورتيا لازمه ده، که نه پېښې به خپل خوند او اهميت له لاسه ورکړي. تاسو د خپل يوه ملگري لهن و لهجه، د خبرو طرز، د فکر انداز يا د حرکاتو او سکناتو نقل يا پېښې د هغو کسانو په مخ کې وکړئ چې هغوی هم دغه شخص پېژني؛ ځکه چې دا پېښې هله خوند کوي چې د خلکو ذهن ته هم اصلي شخص راشي او هم په دغو پېښو کې د هغه نقل ووينې. په دې ډول په پيروډي (پېښو) کې هم چې کومه هنري ټوټه موخه گرځي، له هغې سره بايد له وړاندې نه لوستونکي او اورېدنکي اشنا وي. [لکه پښتون هنرمند او ممثل شفيق پهلوان چې کله د ځينو شخصيتونو په غږ کې د هغوی پېښې کوي، يا د ځينو مشهورو سندرغاړو د آواز او سبک په تقليد سره چې د هغوی پېښې کوي، نو د ټولو ذهن ته نېغ هماغه شخص ودرېږي.]

پيروډي يا پېښې په دوه ډوله دي:

۱- د يوې ادبي يا هنري ټوټې د سبک پېښې؛

۲- د يوې ادبي يا هنري ټوټې د مفاهيمو او مطالبو پېښې.

ښه پيروډي (پېښې) هغه ده چې د دواړو (سبک او مفاهيم) د ملنډو د نقل خوند او رنگ په کې وي. د ځينو په اند د ښو پېښو مقصد پر اصلي هنري ټوټې نامستقيم تنقيد دی، خو ادبي تفريح يا خوش طبعي هم د پيروډۍ موخه او مقصد دی. (۵۰:۱)

د پښتو ژبې بل مشهور ممثل او ټوکمار اروانښاد ميراوس چې اصلي نوم يې حيات خان و، د پيروډۍ يا د نورو شاعرانو او هنرمندانو تقليد او پېښې يې په ډېر جالب انداز کولې چې هم په کې د طنز خواږه شته او هم اصلاحي او انتقادي اړخ لري. نوموړي د پښتو مشهور ډرامه ليکوال، شاعر او ژورنالېست يونس قياسي »د خيبر زلمي «ترانې پر ځمکه او په همدې سبک او کمپوز کې دا شعر په طنزيه بڼه اړولی چې همدا د هنر په ډگر کې د چا پېښې کول (پيروډي) دي. د ترانې مطلع داسې ده:

مونږ يو د خيبر زلمي پښتو زمونږه شان دی
مونږه پښتانه يو، پر وطن مو ځان قربان دی

ميراوس داسې اړولی:

زمونږه په وطن کې د غريب سړي ژوند گران دی
چرته چې مېله وي، په کباړ يې کار روان دی
څوک گرځي بنډلو کې زړې واسکټې وگورې
ځای پر ځای سورې وي څوک تنو ته په کې نه گورې
وران په کې پتۍ د امريکې که د جاپان دی
چېرته چې مېله وي په کباړ يې کار روان دی

دا يې يوازې ليکلې بڼه ده، خو دا ډول پېښې اصلاً د سټېج په سر يا يو محفل کې په عملي بڼه وړاندې کېږي، چې هغه وخت يې خوند او انداز ښه محسوسېدی شي او د دې يادو پښتنو ټوکمارو يا شاعرانو ويډيوگانې به تاسو ليدلي وي. که په پښتو ادب کې نوره پلټنه پسې وکړو، داسې نور ليکوال، شاعران، ممثلين او هنرمندان به هم پيدا کړو چې د هغو په ليکنو، شعرونو او تمثيلونو کې د پيروډي جالبې بېلگې په لاس راشي.


**مأخذونه:**

۱- صديقي، ابوالاعجاز حفيظ. کشاف تنقيدي اصطلاحات، دويم چاپ، اداره فروغ قومی زبان: اسلام اباد، ۲۰۱۸م.

۲- همکار، گل ملا. د خندا گوډی، مطبعه مسلکي افغان: کابل، ۱۳۸۷ل.

۳- يوسفزی، مشتاق مجروح. زرکانی، يونيورسټي بک ايجنسي: پېښور، ۲۰۱۰م.

## د عمر خيام د څلوريزو پښتو...

کار اخيستی دی، په دې برخه کې استاد څلاند ډېره هڅه کړې او ډېر زيات زيار يې ايستلی چې خلک د خيام له فيلسوفانه افکارو سره د خپلې خوږې پښتو ژبارې له لارې بلد کړي، هيله من يم چې د ښاغلي څلاند نوم به د خيام څلوريزو د ژباړو پر اساس په پښتو او پارسي ادبياتو تاريخ کې د تل لپاره ژوندی وي.

البته ځوان ليکوال او شاعر ښاغلی عبدالقديم پټيال په خپلې سريزه کې چې د عبدالباري جهاني په کتاب يې ليکلې او د (د خيام سُرونه د پښتو په تال کې) په نامه خپور شوی؛ نوموړی د ابوالخير څلاند په کتاب چې (د خيام څلوريزې) په نامه چاپ شوی؛ دا ډول نيوکه کړې:

((...ابوالخير څلاند د خيام د ژباړو ځانګړی کتاب خپور کړی دی؛ خو زه دا نيوکه پر کولای سم چې سمه ژباړه نه سو ورته ويلای، نه د خيام شاعرانه اروا پکې ده او نه په هغه ډول ژباړل سوې دي؛ لکه په خپله ژبه کې چې څونه خوند کوي...)).

زما په فکر د ښاغلي پټيال نقد د ښاغلي څلاند د ژباړې په باره کې علمي پرېکړه نه ده او اصلاً سهي هم نه ده، نوموړي د غوره ژباړن او لوی شاعر په باره کې له تېزی کار اخيستی او هغه هم بې له دليل او لاسونده او هغه دا چې: (سمه ژباړه ورته نه سو ويلای)؛ اخر ولې؟ او دغه نيوکه يې چې د خيام په څلوريزو کې چې کوم د پارسي خوند شته؛ د څلاند په ژباړو کې نشته؛ دا خو ښکاره ده چې اصل همېشه له ژباړې غوره او خوږ وي؛ بلکې حقيقت دا دی چې د ښاغلي څلاند ژباړه د خيام د ټولو پښتو څلوريزو په ژباړو کې ښه او غوره شمېرل کېږي.

البته دا امکان لري چې د ښاغلي عبدالباري جهاني په ژباړل شوې ټولګه کې د ښاغلي ابوالخير څلاند له ژباړې نه يو څه غوره بېلګې وي؛ خو بيا هم اړينه ده چې موږ بايد هر وخت د علم او ادب په ډګر کې عدالت په نظر کې ونيسو او هېڅ وخت انصاف له لاسه ور نه کړو.

زه د خپل ځاني نظر په اساس ښاغلي ابوالخير څلاند ته ډېره مبارکي وايم چې رښتيانی نوموړی په دې ډېر برلاسی شوی چې د خيام څلوريزې يې په ډېرې ښکلې پښتو ژباړلې دي.

د دې ليکنې په پای کې بايد وويل شي چې زموږ په ټولنه کې د اديبانو او شاعرانو هېڅ درناوی نه کېږي چې په همدې اساس ښاغلي استاد څلاند هم په ډېرې نهيلی او نااميدی خپل ژوبل شوي احساسات داسې روښانه کړي دي:

قدردان به مې له مرګه پس پيدا سي
پرستار به د مزار وي، زه به نه يم

***

### (۳) د خيام سُرونه د پښتو په تال کې

د خيام د څلوريزو ژباړې په پښتو ادبي نړۍ کې تر دې دمه غځېدا لري چې بالاخره ښاغلي عبدالباري جهاني ته هم وار راورسېد، ښاغلی جهاني د حاجي عبدالاحمدخان زوی، د کندهار په ښار کې، په ۱۳۲۷ هـ ش، کې يې دې نړۍ ته سترګې پرانېستې، نوموړي منځوی زده کړې په کندهار او لوړې زده کړې يې د کابل په ښکلي ښار کې سرته رسولي دي.

ښاغلی جهاني د پښتو په معاصرو ادبياتو په ځانګړې توګه د شعر په برخه کې نړيوال اوځارتوب لري، نوموړی لوړ شاعر او غوره ليکونکی همغه د پښتو ويونکو په سيمه کې ډېر مېنان(لارويان) لري، دغه د پښتو ژبې مبتکر شاعر په پارسي او انګلېسي ژبو ډېر زيات برلاسی دی په همدې اساس نوموړي په پښتو ډېر کتابونه ليکلي او خپاره کړي دي.

ښاغلی جهاني د پښتو ادبياتو په تاريخ کې دريېم کس دی چې د عمر خيام څلوريزې يې (د خيام سُرونه د پښتو په تال کې) د پښتو ژبې د نظم په جامه اوډولې دي او خپل دغه کتاب يې د کندهار په ښکلي ښارکې، په ۱۳۸۴ هـ ش، کې د تاريخ خپرندويه موسسې له خوا خپور کړی دی، نوموړی اثر يې د ۱۰۰۰ ټوکونو په شمېر، د ۱۵۰ روپيو په قيمت راوېستی، ناويلې دې نه وي؛ ښاغلي جهاني د خيام نيشاپوري ۳۸۰ څلوريزې په پښتو ژباړلي او دغه ټولې يې په خپل اثر کې ځای پر ځای کړې دي، د انصاف له مخې که ووايو د ښاغلي جهاني ياد کتاب د پښتو په ادبي نړۍ کې يو ډېر ښکلی کتاب دی، دغه اثر انځوريز او په څلورو رنګونو کې خپور شوی دی، هره پاڼه په خپل ذات کې يو رنګين لښتليک(جدول) لري، د هرې پاڼې په مخ د خيام څلوريزې له پښتو منظومو ژباړل شوو څلوريزو سره يوځای راغلې دي، دغه ښکلی کتاب ۲۰۹ مخه دی او له افغان کتابپلورنځي، آرګ بازار، کندهار ښار څخه تر لاسه کېدای شي.

ښاغلي جهاني چې د خيام څلوريزې په پښتو ژباړلي؛ په غوره ژباړو کې شمېرل کېږي او په دې باره کې يې له مولوي احسان الله خټک او ښاغلي ابوالخير څلاند څخه د ويناوالی ډګر ښه ګټلی دی، ښاغلي جهاني په خپلې ژباړه کې د پښتو له معياره کار اخيستی او د پښتو نوموني او نګه وييونه يې په ښه ښه استعمال کړي دي چې په همدې اساس په دې اړخ کې له پورتنيو ژباړونکو شاعرانو څخه د ښاغلي جهاني ژباړه ډېره ساده او روانه ده، دا چې ښاغلي جهاني کندهاری دی؛ نو په خپلې منظومې ژباړه کې يې له کندهارۍ لهجې زيات کار اخيستی چې په دې توګه يې د خيام څلوريزو ته ډېره ښکلا بښلې ده.

دلته بايد وويل شي چې د ښاغلي جهاني د شاعرۍ سبک د خيام نيشاپوري د شعر سبک ته ډېر نږدې دی چې په همدې اساس نوموړي ژباړن د خيام څلوريزو د ژباړې پر وخت خوښې ښودلې او په ډېره اسانۍ پرې برلاسی شوی او د خيام د څلوريزو ژباړه يې د پښتو ژباړې پر وخت لوړ پوړ ته رسولې ده، کله چې ګران لوستونکي د ښاغلي جهاني ژباړه لولي؛ نو د خوښۍ احساس کوي.

لنډه دا چې ښاغلي جهاني د خيام څلوريزې چې په پښتو ژباړلي دي؛ د پښتو په ادبي نړۍ کې ډېر لوړ ازرښت لري، زه ښاغلي جهاني ته مبارکي وايم چې د ژباړې له لارې يې په پښتو آثارو کې يوه ګرانه زياتونه کړې، د ښاغلي جهاني د کتاب سريزه ځوان ليکوال ښاغلي عبدالقديم پټيال ليکلې او له دغه (د ښاغلي عبدالباري جهاني له شعري ژباړو څخه) سرليک لاندې د کتاب قدرمنو لوستونکو ته بې پايه معلومات په لاس ورکوي.

په پای کې د ښاغلي جهاني د خيام له دغو څلوريزو زېرمو څخه د پښتو له ژباړو سره يوځای يوه بېلګه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کېږي:

کس مشکل اسرار ازل را نگشاد
کس يک قدم از نهاد بيرون ننهاد
چون بنگری از مبتدی و استاد
عجز است بدست هر که از مادر زاد

***

د ازل چې څه اسرار دي؛ هغه نه دي چا سپړلي
له آغازه تر دې دمه يو ګام نه دی مخ ته تللي
له شاګرده تر استاده ځواب نه دی چا مېندلی
ټول عاجز دي چې له موره پر جهان دي زېږېدلي

***

ګرانو لوستونکو!! تاسې په پورتنيو کرښو کې په پښتو ژبه د خيام د ژباړل شوو څلوريزو په اړه بشپړ معلومات تر لاسه کړل او ومو ليدل چې د پښتو ژبې شاعرانو د دغې ژباړې په برخه کې څومره هڅه او زيار کښلی دی، په رښتيا چې زموږ درانه شاعران د ستاينې وړ دي چې د پښتو ژبې لمن يې د پارسي ژبې له دغو ګرانو زېرمو ډکه کړې ده، دمګړی موږ پښتو ژباړو ته هغه که له هرې مړې(غني) ژبې څخه وي؛ ډېره اړتيا لرو، د ژباړو دغه لړۍ بايد همداسې همېشنۍ واوسي، په ځانګړې توګه د پښتو علمي ټونونه(مرکزونه) بايد له دغه کاره ناخبره پاتې نه شي او د ژباړې په ډګر کې د نړۍ له بېلابېلو ژبو څخه بايد د پښتو ژبې لپاره ارزښتمن ګامونه واخيستل شي.

### (۴) د خيام رباعيات

پښتو ژبه ډېره خوښ مهاله ده چې د نړۍ د ۱۴۳ سترو مقام والا ژبو په کتار کې راغلې او ډېره لوړه پوړۍ يې تر لاسه کړې ده، ښکاره ده چې د نړۍ شاعرانو او ليکوالو د خيام نيشاپوري ژباړې په ۱۴۳ ژبو د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې په نظم او نثر ترسره شوې دي چې په همدې اساس بيا هم وايم چې پښتو ډېره خوښمهاله ده چې د نړۍ د ۱۴۳ سترو مقام والا ژبو په کتار کې راغله او ډېره لوړه درجه يې تر لاسه کړه.

يو له همدغو نه د پښتو ژبې ليکونکی استاد نجم الرحمن مواج هم دی چې يو د پښتو له ژباړونکو څخه شمېرل کېږي چې د ۱۳۸۲ ش، په شاوخوا کې يې د خيام ۹٦ څلوريزې په پښتو ژبه د نظم په بڼه په ښه طريقه ژباړلي او خپرې کړې دي.

ښاغلی مواج د علي احمد خان په کورنۍ کې د ننګرهار په ښار کې زېږېدلی؛ البته د سره رود په سيمه کې؛ مګر د کوچنيتوب دوره يې په (باغوانۍ) سيمه کې تېره کړې ده، نوموړی د ټبر له اړخه د پلار له لوري احمدزی او د مور له لوري ساپی دی، ده منځوی زده کړې په ننګرهار کې ترلاسه کړې؛ مګر لوړې زده کړې يې د اقتصاد په برخه کې، په کابل پوهنتون کې سرته رسولي دي.

هو!! ښاغلی مواج له شعر او ادب سره ډېره مينه لري؛ مګر افسوس! زموږ د ګران افغانستان سياسي اوضاع نوموړي ته دا اجازه ور نه کړه چې په پښتو او پارسي ژبو کې نورو کارونو ته پراختيا ور وبښي، اوس يې چې عمر له پنځوسو کلونو اوښتی؛ نوموړي د پارسي ادب په ډګر کې د خيام د ژباړل شوو څلوريزو له امله ډېر زيات اوځارتوب موندلی دی، رښتيا چې ښاغلي مواج په دې برخه کې ډېر زيار کښلی، زه نوموړي ته مبارکي وايم چې دی په دې بريالی شوی چې د خيام ژباړل شوې څلوريزې يې د چاپ په ګاڼه پسوللي دي، بايد وويل شي چې د (خانه فرهنګ جمهوري اسلامي ايران) مشر ښاغلی مواج ډېر زيات هڅولی او نازولی چې د لومړي ځل لپاره يې ورته د خيام ژباړل شوې څلوريزې د چاپ په ګاڼه خپرې کړې دي.

د کتاب په پيل کې ښاغلي مواج د منڼو په څرګندولو د خپل زړه احساسات ښکاره کړي، وروسته د پښتو ژبې نوموتي او زيارکښه استاد محمدآصف خان صميم (د خيام څلوريزې او پښتو ژباړې يې) تر سرليک لاندې يو څو ګټورې خبرې ليکلي، ورپسې د عبدالحق دانشمل تقريظ او په اخره کې د پوهنوال عبدالخالق رشيد يو څو ګټورې خبرې تر سترګو کېږي.

هو!! ښاغلی صميم په خپلې درنې ليکنه کې دا ډول ليکي: ((...درېيمه ژباړه زما په اند د انجينر سلطان جان کليوال ده چې مسوده يې شپږ اووه کاله وړاندې د پښتو د نازکخيال او استاد شاعر ښاغلي محمدصديق پسرلي د نظر اخيستنې لپاره ماته راکړې وه؛ خو تر دې کرښو کښلو پورې يې په چاپ او ناچاپ داړ نه شوم...)).

ښه شوه! چې مهندس سلطان جان کليوال هم د خيام څلوريزې په پښتو ژباړلي دي، هيله من يم چې د ښاغلي کليوال دغه ژباړه ژر چاپ شي. په همدې اساس په پښتو کې د خيام د څلوريزو ژباړه يوه بله زياتونه پيدا شوه.

ښکاره ده چې (د خيام رباعيات) په پښتو ژبه د خيام د ژباړل شوو څلوريزو په لړ کې يوه ښه زياتونه ده؛ مګر کله چې موږ د ښاغلي مواج دغه ژباړه د پښتو له نورو ژباړو سره پرتله کوو؛ نو ياده ژباړه د نورو په مقابل کې ډېرې زياتې کمۍ لري، زما په نظر د ښاغلي مواج ژباړه رواني او شعري سلاست له لاسه ورکړی، نوموړي په ژباړه کې د پښتو سوچه او نګه وييونه ډېر لږ کارولي او د پښتو ګړنې (محاورې) له اړخه يې ژباړه کمزورې ده، په ځينو ځايونو کې د مواج منظومه ژباړه اصلاً وزنونه له لاسه ورکوي، کله کله د سهي قافيې په راوړلو کې تېروتی، په ژباړه کې بېخي د قافيې قانون نه پلی کوي؛ مګر په ټوله کې د ښاغلي مواج ژباړه د ستايلو ده، دلته د ښاغلي مواج د ژباړې بېلګې د ګرانو لوستونکو مخې ته اېښودل کېږي چې وزني او قافيوي نيمګرتياوې پکې شته دي؛ هيله ده چې دې لوري ته پام وکړئ:

د فلک په چرخ چا و نه موند برى
ځمکه تل خوري بنيادم لکه مړی
پوه به شې نه يې خوړلای ای مغروره!
بېره مه کړه ستا به هم خوري ککرى

په پای کې د ښاغلي مواج د منظومې ژباړې يو څو بېلګې د خيام له څلوريزو سره يوځای وړاندې کېږي:

اين چرخ که با کسی نمی گويد راز
کشته به ستم هزار محمود و اياز
می خور نه بخشند ترا عمر دراز
و آنکه شد ازين جهان نمی آيد باز

***

دا څرخ نه وايي هېچا لره چې راز
په ستم وژلای زر محمود اياز
نه ښښي اوږد عمر وڅښه می په ناز
له دنيا چې ولاړ بيا نه راځي هېڅ راز

***

اين کهنه رباط را که عالم نامست
و آرامگه ابلق صبح و شامست
بزميست که وامانده‌ٔ صد جمشيد ست
قصريست که تکيه گاه صد بهر است

***

دا زړه هډه عالم چې ورته نام دی
هم تمځای د توروسپين سهار، ماښام دی
پاتې شوی سل جمشيده ځنې بزم
قصر کوم چې استوګن د سل بهرام دی

***

اسرار جهان چنانکه در دفتر ماست
گفتن نتوان که آن و بال سر ماست
چون نيست در اين مردم دانا اهلی
نتوان گفتن هر آنچه در خاطر ماست

***

کوم اسرار چې د جهان دی زموږ دوتر کې
ويلی نه شو شي ګناه يې زموږ سر کې
يو مل نه لري چې دغه پوهه وګړي
نه شو ويلی کوم چې شته زموږ خاطر کې

***

لنډه دا چې (د خيام رباعيات) له ښاغلي مواج نه يوه يادښه پاتې شوې چې نوموړي خپله شعري وړتيا د خيام په څلوريزو کې چې په پښتو يې ژباړلي؛ تحت اللفظي ژباړه کړې، ژباړن د ژباړې پر وخت د خيام له قافيو او ځانګړنو ډېره ګټه اخيستې ده او دغه ټکی بايد ناويلی پاتې نه شي چې نوموړي د پښتو ژباړې پر وخت د پارسي له ځانګړنو ډېره زياته ګټه اخيستې؛ حال دا چې له پارسي ځانګړنو څخه په پښتو کې ښې ډېرې زياتې ښايسته ځانګړنې شته دي، دلته يوه پوښتنه راپيدا کېږي چې ښاغلي مواج ولې داسې کړي دي؟ زما په اند د دې پوښتنې ځواب دا دی چې د خيام د څلوريزو د ژباړې پر وخت شايد په پښتو کې څه ستونزه لرله او د خپلې اسانۍ لپاره يې د ژباړې پر وخت د خيام له قافيو او ځانګړنو څخه په خپله ژباړه کې ګټه اخيستې وي؛ همدارنګه په دغه اثر کې د پښتو ليکدود له نظره هم ډېرې تېروتنې تر سترګو کېږي چې ګران لوستونکي له ستونزو سره مخوي.

په پای کې يو ځل بيا ښاغلي مواج ته ډېره ډېره مبارکي وايم چې د (د خيام رباعيات) په وسيله يې پښتو ادبياتو ته ښکلا وبښله؛ البته هيله من يم چې ښاغلی مواج به په درېيم چاپ کې ډېر زيار وباسي چې د ياد کتاب کمۍ له منځه يوسي.

**مأخذونه**

۱: خټک، مولوي احسان الله. دا دنيا، په خپله ژباړن: منظور عام پرېس پېښور، ۱۹٦۴م.
۲: څلاند ابوالخير. د عمر خيام څلوريزې، پښتو اکاډمي کوټه: قلات پرېس کوټه، ۱۹۸۴م.
۳: مواج، نجم الرحمن. د خيام رباعيات، خانه فرهنګ جمهوري اسلامي ايران: پېښور، نه لري.
۴: جهاني، عبدالباري. د خيام سُرونه د پښتو په تال کې، نارنج خپرندويه موسسه: کندهار، ۱۳۸۴ل.
۵: خليل حنيف. کاکاجي صنوبر حسين مومند شخصيت اور فن، اکاډمي ادبيات پاکستان: اسلام آباد، ۲۰۰٦م.
٦: خليل، همېش. پښتانه ليکوال (لومړی ټوک)، خپله ليکوال: پبلک آرټ پرېس پېښور، ۱۹۵۸م.

۱۴۰۴ چنگاښ میاشتې ۳۱
۱۴۴۷ د محرم میاشتې ۲۵
۲۰۲۵ د جولايي میاشتې ۲۱

دوهمه دوره
دوه نۍ (دوشنبه)
د چنگاښ ۷ - ۸ گڼه
پرله پسې (۴۴۷ - ۴۴۸ مه) گڼه

# بې درده پښتنو ته د نغمو ضرورت څه و؟

څېړندوی محب الله همتیار

په پښتانه ټبر کې به ډېر کم داسې خلک وي، چې د رحمت شاه سایل، درویش دراني او پیر محمد کاروان له نومونو سره به نا اشنا وي. که په ټوله کې ووایم څوک چې د پښتو ژبې د شعر او ادب سره یوه زره اړیکه هم ولري نو دی به د پورته درېیو هستیو له نومونو سره پېژندگلوي لري. دا چې نن ورځ د پښتو ملت د څېرک ادیب او شاعر په نوم د پښتو نویو او مشهورو لیکوالو لیکنې کړې دي چې د لوی پښتانه سایل چې د پښتنو په هره کوڅه یې د ترکیب، ویی، خیال او فکر فقر کړی دی او له دې را ټولو شویو رنگ رنگ د پښتنو د حسن پلوشې یې د کتابونو په سینو کې بندې کړې او تر نن پورې را رسولې دي. دا چې سایل زمونږ د لر او بر رنگونه ټولوي او مونږ ټول خپل بولي نو ما هم د نورو په شان دا د شاعر او خیالور انسان په ځان حق وباله چې په اړه یې یو څو کرښې وکښم. ما د خپل حق د ادا کولو هڅه کړې ده ښایي دومره به بریالی نه یم چې د یو ستر انسان د ښېگڼو او کمالونو په را سپړلو کې به تر ټولو مخکښ شم.
رحمت شاه سایل لوی خدای په پښتون ملت کې د خیال او فکر ستر او لوړ غر پیدا کړی دی، د د فکر او خیال غر دومره لوړ دی چې کلونه کلونه به مزل وشي خو د دې لوړې څوکې له سره به لمنې ته له یو څو کسانو پرته نور را ونه گوري. د د دې غره په لمنه کې د پښتو شعر داسې ریښې وغځولې چې د هر مني او ژمي له تېریدو وروسته به سم له واره بیا را زرغونېږي او غوټۍ به سپړي.
سایل د پښتنو کوڅو هغه انځور گر دی چې کلونه یې په سترگو او ستړي وجود په دې دردېدلو کوڅو کې ژوند کړی دی، ښه او بد یې په خپلو سترگو لیدلي او بیا یې د شعر په هنداره کې داسې انځور کړي دي چې ښکلا او ښایست یې له لرې سیمو ښکاري.
ان د پښتنو رواني حالت یې په داسې ډول درک کړی دی چې یو روانپوه یې هم ښایي په درک کې عاجز وي ځکه روانپوهان د هر کس د فردي ځانگړنو څېړنه کوي او هم یې په اړه پرېکړه کوي خو سایل د پښتون ملت ټول عمومي روان مطالعه کړی او په اړه یې هم پرېکړه کړې او هم یې د حل لاره ورته په گوته کړې ده. په هر ویی او ترېښت کې یې د بد مرغۍ په اړه معلومات ورکړي او بیرته یې په همدې ډول د حل لارې ښوودلې دي.

**ځان که اوریده غواړې نو چاته ځان واوروه**
**دا امیرانه خود کلامي به تــــــر څو کوې**

کله چې د پښتون سایل په خورجین کې د پښتون د لر او برو کوڅو په کچکول کې را ټول شوی د خپل ملت درد ، خوښي، حسن، انانیت او غرور بیتونه تر نظر تېر کړې حق حیران به ورته پاته شې. څومره په کمال یې درد ، مینه او پښتون غرور سره په یوه تار پېیلي دي.

**څو به باچاهي په خپل غرور او انا کوې**
**پته شان د مینې گـــدایي به تر څو کوې**

شاعر او خیالور سایل د پښتون قام داسې بدمرغۍ هم را برسېره کوي چې تر اوسه لا حل شوې نه دي او نه یې د حل هیله ښکاري. له دې سره چې بدمرغۍ یادوي ورسره یې لامل هم په گوته کوي او په دې فکر دی چې خدای به یې د حل لار او د لامل له منځه وړونکي پیدا کړي.

**تار تار پروت دی چا را ټول نه کړ سایله**
**د پښتون وطن گریوان د لیونـــــــــي دي**

راځئ ! دې بیت ته یې وگورو هم یې د پښتون قام د بدمرغۍ هغه حال ښوودلی دی چې تر اوسه پورې هیڅ پښتون رهبر یې د راټولیدو هڅه نه ده کړې بلکې لکه د لیوني گریوان نور یې هم پسې ریښې ریښې کړی دی. دا چې په شعر کې مونږ ته وایي چې چا دا وطن نه دی را ټول کړی، بس همدا ټکی دی چې مونږ یې باید د حل لارې په لټولو پسې روان شو او ښایي ورته ورسېږو. ولې په تېرو یې همدلته قضاوت کړی دی چې هغوی د دې ملت له پاره هیڅ هم نه دي کړي بلکې یوازې د خپل ځان غم یې خوړلی دی.

**خاورې به مې وایی چې پښتون یمه پښتون یمه**
**خوښ د پښتونخوا په مېړتون یمه پښتون یمه**

تاسې به اورېدلي وي چې هوسۍ کله په غره کې د شپې یا ورځې له خوا ارام کوي نو د مېږیانو په غار باندې څملي تر څو زیاته په غفلت کې واقع نه شي او د نورو حیواناتو بریدونو څخه په امن وي. دا ځکه چې مېږیان یې تر پوستکي لاندې ننوزي او چیچي یې نو هوسۍ بیا ډوب خوب نه شي کولای. که د سایل صیب پورته شعر ته پام وکړو داسې منظره مو تر مخ راته ایږدي چې ان د پښتونخوا اوسنی حالت او له دې حال سره مبارزه او هم د خپلې خاورې مینه پکې له ورایه چغې وهي. د شاعر موخه دا ده چې څنگه هوسۍ په مېړتون باندې څور تیروي خو بیرته خوړلت یې بیا د ځان ساتل دي خوښه وي . شاعر هم د خپلې خاورې په دې څور او درد چې ورته رسېدلی دی او بیا هم پکې اوسیده د خپل ځان د عزت او شرف لپاره غوره بولي.
له سایل که څوک له خپلې ژبې او وطن سره د مینې او د لیونتوب تر کچې د جنون ثبوت غواړې نو هغه دې دا بیت ولولي

**زما په دواړو اوړو ناستو پرېښتو ولیکئ**
**زما په سر که څه لیکئ نو پښتو ولیکئ**

عجبه ده ان هغه څه چې زمونږ د دیني روایاتو له مخې کرام الکاتیبین ملایکې په عربي ژبه زمونږ د ورځني ژوند چارې او کړه وړه د خدای (ج) حضور ته د وړاندې کولو لپاره لیکي. ولې سایل په دې برخه کې هم له کرام الکاتیبن څخه غوښتنه کوي چې زما د ورځې چارې دې څښتن تعالی ته په پښتو ژبه وړاندې شي . زه فکر کوم چې دا یې له خپلې ژبې سره تر ټولو د لیونۍ مینې ښه ثبوت دی.

**ځار له پښتو چې یې ادا ادا تصویر کړم په کې**
**په بله ژبه کې و ډېر ځایول گران د جانان**

د سایل پورته بیت د نن ورځې د معاصرې نړۍ له هغې نظریې سره یو شان دی چې انسان خپل خیال او فکر په خپله مورنۍ ژبه کې تر بلې هرې ژبې زیات ښه څرگندولی شي. انسان که هر څومره هم په بله ژبه خبرې او لیکل زده کړي خو د لاشعور هغه ژور کیفت چې په مورنۍ ژبه کې څرگندولی شي په بله ژبه کې یې نه څرگندېږي. له دې شعر څخه د لیکوال د یوه اهم فکر او نظریې وړانگې زمونږ تر سترگو راځي او هم یې د فکر شاعر بللی شو. **پای**

# پر "د یوازېوالي دېوال" کره کتنه

څېړندوی محمد اتل انگار

دا کتاب افغان ادبي بهیر کې په دې شرط ووېشل شو، چې څوک یې اخلي؛ نو لیکنه به پرې کوي. ما هم دا کتاب د لیکنې لپاره را واخیست؛ دا چې د افغان ادبي بهیر او د ژباړن شرط مې پرځای کړی وي نو د کتاب له نوم څخه یې پیلوم. هیله ده چې د ژباړن خوا پرې بده نه شي او ښاغلي فدا محمد نظري خو د بهیر په سټېج دا خبره هم وکړه، چې پر ما نقد وکړئ. زه ځانته د نقد اجازه نه ورکوم، دا یوازې زما برداشت دی.
د کتاب نوم دی ((د یوازېوالي دېوال)) (د نړۍ د ٥٦ نامتو شاعرانو ١٦٥ "پښتو شوي" شعرونه) خو زه وایم، چې په پښتو کې که لیکو؛ نو یوازېتوب لیکو؛ یوازېوالی نه لیکو او دلته هم که " د یوازېتوب دېوال" راغلی وای؛ هم به یې رواني پیدا کړې وه او هم به تر یوازېتوب وروسته څنډ پېښ شوی و، چې د کتاب له نوم سره به مناسب و.
په دې کتاب کې ډېرې شعرونه داسې ژباړل شوي لکه نثر؛ چې که جملې څنگ په څنگ ولیکل شي او څوک یې ولولي نو دا گمان به وکړي، چې دا یوه نثري لیکنه ده. زه اوس د څو شعرونو بېلگې راوړم، په هغو به بحث وکړم.

**ستا په لټه...**

په هغه توره تیاره شپه کې
د دې لپاره چې تا پیدا کړم
پخپله ورک شوم
هیڅا په لاره کې
فانوس نه و راته لگولی
کله چې اوس له هغو لارویانو نه ما وپوښتې
هغوی بارانونه دربښیي
نور هغه لارویان هم زاړه شوي دي

که دا شعر لکه کیسه یا مقاله و لیکل شي، لوستونکی به ده ته شعر ووایي او که نثر؟ په شعر کې یوازې پیغام رسول اړین نه وي، شعر باید شعریت ولري. زما موخه له شعریت څخه عاطفه، خیال، مفهوم او وزن دی، چې د دې کتاب په ډېرو شعرونو کې ورته پام نه دی شوی. پیغام په نثر کې هم ښه رسیږي، ځکه چې د نثر لمن پراخه ده او ژباړن کولی شي نوره تشرېح هم ورکړي. دا به ومنم چې په ژباړه کې د ژباړن وضاحت ته اړتیا نه وي؛ خو د شعر په ژباړلو کې باید ژباړن اجازه ولري. د شعر ژباړه که په شعر کېږي، نو یوازې پیغام ته نه؛ بلکې شعریت ته هم باید پام وشي. دا شعر ځکه اوس لوستونکي ته شعر ښکاري، چې هره جمله یې په جلا کرښه کې لیکل شوې ده؛ خو که جملې څنگ په څنگ ولیکل شي؛ نو ایا دا به شعر پاتې شي؟
په دې کتاب کې خو ځینې داسې شعرونه هم شته، چې پیغام نه لري او که پیغام لري هم نو گونگ دی؛ شعریت او هنریت خو یې پرځای پرېږده. کېدای شي څوک ووایي، چې یو پټ مفهوم پکې پروت دی؛ خو زه به ورته ووایم، چې غرونو کې هم ډېر قیمتي کاڼي شته، مگر زمونږ هیوادوال بیاهم وږي دي، دا ځکه چې هغه کاڼي پټ دي. دا چې شعر کې نه شعریت وي، نه هنریت او پیغام هم پکې پټ وي، نو پاتې پکې څه شول؟ یوازې خبرې؟ دا خو یو نالوستی هم کولای شي، نو که یوازې خبرې وي؛ بیا یې د ژباړلو اړتیا څه ده. مونږه هم ډېرې خبرې لرو، که هغه نورو ژبو ته وژباړو ایا هغوی به یې ولولي؟ داسې خبرې د کتاب په ټولو شعرونو کې نشته، ځینې ژباړل شوي شعرونه هم ښه شعریت لري او هم ښه پیغام.
دې کتاب کې ځینې ژباړې بېخي گونگې دي، لوستونکی حیران کړي چې اول د شاعر موخه څه وه او بیا د ژباړن اړتیا څه وه او ولې یې خواري کړې ده؟ ما په تېرو کرښو کې یادونه وکړه؛ که دا ژباړې په نثر کې شوې وای، هم به ژباړن ته د وضاحت ورکولو زمینه برابره وه او هم به ژبې ته خدمت شوی و. اوس نه پوهېږم، چې ځینې شعرونه ولې ژباړل شوي او چاپ شوي دي لکه دا شعر:

**ښکلول...**

د رود په غاړه
چې یوازې وم
کوم چا له مانه وغوښتل
ښکل یې کړم
یوازې
لکه باد
د دښت په وښو کې
یا د سرو میو کاسه
د مړي د مېز په سر

ځینې شعرونه واقعآ عالي پیغام لري، د شعر په پای کې ستر عاطفي پیغام ور زیات شوی. لکه دا شعر چې وروستۍ کرښې یې دي:

په یاد مې دی د هغې کلیوالې اواز،
چې ویل به یې:
"یوه ورځ به په موټر کې سپرېږو".

څومره دردېدلی اواز او څه عجیبه هیله، په موټر کې سپرېدل. همدا یوه خبره د شعر د کرکټر د ټول ژوند ترجماني کوي او هر لوستونکی پرې پوهېږي، چې کرکټر څومره غریب او بېوسې دی، چې یوازینۍ هیله یې په موټر کې سپرېدل دي.
د دې کتاب په ژباړلو کې ډېره عجله شوې ده. ځینې جملې او ترکیبونه په کې له ډېرې مبالغې بې مانا شوي دي لکه دا جمله:
"شپه ښکلې ده، زما د خلکو د دردونو د څهرې په څېر"
درد مجسم توک نه دی، چې څهره ولري او که د ژباړن موخه "د خلکو دردېدلې څېرې" وي؛ نو بیا ولې داسې نه دي لیکل شوي: "شپه ښکلې ده، زما د خلکو دردېدلې څېرې په څېر". هم به رواني پیدا کړي او هم به لوستونکی ترې مانا پورته کړي.
جیم ران یو امریکایي ویناوال دی، په خپل یوه کتاب "معجزه په تا کې ده" وایي: «ډېری کسان وایي چې مونږ ځکه بې مفهومه کتابونه لولو، چې په ځینو پاڼو کې یې ښه مطالب هم موندل کېږي. زه وایم که ښه وگرځو په کثافت دانۍ کې هم ډوډۍ پیدا کېږي؛ خو ښه لاره هم شته». زه دا نه وایم چې دا کتاب مه لولئ؛ بلکې زه دا وایم، چې که یو څه ژباړو موخه مو باید خپلو خلکو او خپلې ژبې ته خدمت کول وي او بس.
که په دې کتاب کې د شاعرانو اصلي شعرونه هم راوړل شوي وای ښه به وو. هېره دې نه وي چې ۹ شعرونه راوړل شوي دي؛ خو دا ډېر لږ دي. زه دا منم چې ژباړه دوه ژبې سره نږدې کوي، د بلې ژبې فکر لوستونکي ته لیږدوي؛ خو لوستونکی یې په دې شرط مني، چې اصلي شعر یې هم په مخکې پروت وي. لوستونکي ته به د ژباړن کمال ور مالوم وای او لوستونکی به په دې پوه شوی وای، چې ژباړن څومره امانتداري کړې ده او څومره یې خېټالوژي ورگډه کړې ده.
ازاد شعر ته ځکه ازاد وایي، چې د قافیې او ردیف زولنې یې په پښو کې نه وي؛ مگر د وزن له بنده هېڅکله نه ازادېږي او که ازاد شعر د وزن له بنده هم خلاص شي نو بیا خو به یوازې او یوازې نثر پاتې شي او که شعر په نثر وژباړل شي بیا خو زما پخوانۍ خبره ده، چې د نثر ډگر وېر دی او د خپل فکر اس هم په کې ښه ځغلي. دا به یوه نوې پنځونه وي، چې د یوه شاعر شعر دې خپلې ژبې ته په نثر کې داسې وژباړل شي، چې د ژباړن فکر هم ورسره ملتیا وکړي او د شاعر اصلي مانا به هم لوستونکي ته ولېږدول شي.
دې کتاب کې داسې شعرونه هم شته چې د شعري ژباړې اصول یې مراعات شوي دي لکه:

**کله درې، کله څلور...**

چې یوځای شو
درې تنه یو
زه، ته او مچه
چې ځانته شو
څلور شو
ته او یوازېوالی
زه او غم

د وروستۍ خبرې په پلمه به دا ووایم، چې لوستونکی هغه کتاب تر پایه پورې لولي، چې یوه پاڼه یې تر بلې او یو شعر یې تر بل شعره ښه وي؛ خو که داسې وي، چې یوه پاڼه له بلې کمزورې وي او یو شعر له بله کمزوری وي؛ نو هرومرو به لوستونکی تر څو پاڼو لوستلو وروسته کتاب د الماری بندیوان کړي. د دې کتاب شعرونه به هرومرو نړیوال وي؛ خو ژباړه یې ټکی په ټکی او شعریت یې د ژباړې له مجبورۍ څخه ورک شوی دی، یوازې پیغام پاتې کېږي، چې هغه هم په ځینو شعرونو کې نه تر سترگو کېږي او یا به زما د پوهې کچه دومره نه وي چې محسوس یې کړم. په پای کې دا وایم، چې ژباړن یوازې له کلماتو سره امانتداري کړې ده؛ خو له عاطفې، خیال، وزن، مفهوم او شعریت څخه تښتېدلی دی. په دې هیله چې ژباړن په نورو ژباړو کې پام ورته وکړي. **پای**

# زېرى

علمي، څېړنيزه او ادبي پښتلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

**مسئول مدير:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کتنپلاوی:** اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبياتو مرکز څېړنيز ارګان

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**برېښناليک:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com

**د اړيکې شمېرې:** (۹۳+) (۰) ۷۸۰۸۳۱۹٦۰

(۹۳+)(۰)۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

**د ۱۴۰۴ ل.کال، د چنګاښ مياشتې ۷- ۸مه ګڼه | پرله پسې ۴۴۷- ۴۴۸ مه ګڼه**


## فن او فنکار په ټولنيزو زندانونو کې (۱) برخه

قيصر اپريدی

په ظاهره خو به داسې ښکاري چې ګني زمونږ خبره يوازې تر شعر او شاعر محدوده ده، خو په تصور کې به ورسره مجموعي فنون او فنکارا ن هم ساتو،او خپلو خبرو ته به په دې توګه دوام ورکړو چې تر دې دمه د شعر د تعين په معامله څومره په لويه پيمانه ادبيات عام منظرته راغلي دي، ايا د هغې نه د شعر سره سره د شاعر دحيثيت هم تعين کېږي؟ او ايا د شاعر د دېحيثيت تعين تر سره شوی دی؟ که نه څه ضروري زاويې اوس هم داسې شته چې له هغې غاړې د شاعر د شاعرانه او ټولنيز حيثيت تعين کولو ته يوه لازمي اړتيا محسوسېږي؟

زه وايم چې پهټولنه کې به د شاعر دحيثيت تعين هله کېږي کله چې دا تعين تر هرڅه اګاهو د شعرى هنر په دايرهکې ترسره شي - خوزه دا هم دعوه کوم چې تر هرڅه اول د شعري هنر په دايرهکې دننه د شاعر د شعري تشخص هيڅ تقررنه دی شوی او د شاعر په باره کې مونږ تر دې دمه د ډېرو دقيقو او باريکو مغالطو سره مخيو - که د شاعر په بارهکې له دغو مغالطو څخه مونږ صرف يوه مغالطه راپورته کړو نو د هغې په لړکې نورې هم رشته مغالطې به په خودکاره توګه د بحث په لړیکې ځان ښرګند کړي - سوال دا دی چې د شاعر په بارهکې د دغې اساسي مغالطې شکل او صورت څه او څنګه راجوړېږي؟ دې ضمنکې د بحث رانيولو نه اګاهو بهزهدا خبره هم د لوستونکيو ياداشت ته مخامخ کړم چې که زمونږ د شعر او شاعر پهاړه يوازې عام لوستونکي ددې غلط سوچ ښکار شوي وي نو دا به دومره لويه صدمهنه ګڼو - خو مونږ ګورو چې زمونږ د شعروادب او خصوصًا د تنقيد سره وابسته عناصر هم په دې مغالطهکې راګېر دي، ځکه هم د شاعر دحيثيت کوم تعين چې مونږ دلته بيانول غواړو د هغه تعين نه دوي هم دومره بې برخې دي څومره چې عام لوستونکي فرض کولی شو -

وبه وايو چې کله مونږ د يو شاعر يو شعر يا هر رنګه فنپاره مطالعه کوو نو د هغې په باره کې زمونږ داخلي نفسياتي غبرګون څه وي؟ايا دانه وي چې ګني د شاعر په دې فنپارهکې مونږ ته بالذات شاعر مخاطب دی او دا چې دغه خبرې مونږ د شاعر د خولې نه اورو ـ زه وايم چې يوازې دا نه بلکې د شعر د نورو موادو په باره کې هم زمونږ ردعمل ددې سوچ ښکارندوې وي چې په دې فنپارهکې حقيقت څومرهويل شوی دی؟ همدغه وجه وي چې مونږ په زياترو ځايونوکې د فنپارې له ژبې څخه د ژبې د حقيقي استعمال غوښتنه کوو - خو مونږ دا سوچنه کوو چې که زمونږتر نظر لاندې ليک فنپاره وي نو فنپاره خو حقيقتنه وي مخيله وي نو بيا د يوې مخيله فنپارې ژبه هم بايد د حقيقت برعکس په تخيل بناء وي - نو مونږ له شعر څخه د حقيقت يا مروج سماجي حقيقت او د ژبې د حقيقي سماجي استعمال غوښتنه ولې کوو؟ په همدغه تسلسلکې بيا مونږ دا هم پوښتنه کولی شو چې مونږ په دې فنپارهکې مخاطب کرکټر بالذات شاعر او د هغه حقيقي وجود ته ولې نسبت کوو؟ او دا هم چې مونږ په متعلقه فنپارهکې مخاطب کرکټر بيا ځان ته ولې مخاطب ګڼو ؟ايا زمونږ يعني قاري حقيقي وجود په دې هنرپارهکې شريک او دخيل وجود دی، که د فنپارې د تخيلاتي چاپېرچل څخه بهر څوک دی؟ حقيقت خو دا وي چېنه خو د شاعر حقيقي وجود د فنپارې د داخل برخه وي اونه د قاري وجود په دې فنپارهکې د خپلې موجودګۍ احساس پيدا کولی شي - په يوه فنپارهکې د راوي او سامع احساس د فنپارې د خپل اندرون معامله وي، يعني راوي او سامع دواړه د فنپارې د موضوع برخه وي په دېکې د بهر نه هيڅوک دخيل او شريکنه وي -

زما لوستونکي دې خفه کېږينه ،زه په فنپارهکې د شاعر او قاري شموليت له ارومرو ځاې ورکوم؛ خو في الحال خپل ځان او خپل لوستونکي په دې مغالطه او د هغې په منفي اثراتو خبرول غواړم چې که چرې مونږ له يوې فنپارې څخه په خپلورښتينو خواهشاتو اډانه غوښتنې کوو او ارومرو فنپارهکې شاعر د شاعر په صفت او قاري د خپل ځان په صفت ليدل غواړو نو بيا چې له فنپارې څخه مونږ کوم جماليات اخذ کوو هغه به پهټولنيز فرق او تعصب لړلي جماليات وي ځکه چې پهټولنيزه حواله زمونږ حقيقتونه موافق او په يو رنګنه وي بلکې ژبې، قامونه، ملکونه، مذاهب او مسلکونه هرڅه بيل بيل دي - د دغه تفرق اثرات په مونږ څه په داسېډول مرتسم شوي دي چې خوشحال، ميروېس او ابدالي خو به زمونږ د جمالياتي خواهش برخه وي خو په يوه فنپارهکې د رنجيت سنګ، اورنګ او فرنګ ذکر به مونږ ته هيڅ جمالياتي خوند نه راکوي - همدغه شان زمونږ کوم مخالف ابنِ ادم به د خوشحال يا ميروېس يا ابدالي په نومونوکې د ځان له پاره څه جذب او کششنه ويني - مطلب دا چې له يوې فنپارې څخه د حقيقي غوښتنو په صورتکې مونږ د خپلو اتلانو د ذکر نه خو محظوظ کېدی شو او فنپاره قبلولی شو خو د مخالفو اتلانو د ذکر سره به زمونږ جمالياتي ردعمل متضاد واقع کېږي او دا تضاد که يوې غاړې ته د جماليات د افاقي روح خلاف ورزي ده نو بلې غاړې ته په خپلو ټولو هنري خاصيتونو پوره يوې فنپارې سره زمونږ د ردعمل زياتی دی - يعني زمونږ دا سوچ مونږ له فنپارې څخه په افاقي انداز د محظوظ کېدو نه شاته راکاږي -

بېخي په دغه مصداق که چرته مونږ د يوې فنپارې په داخلکې ويېدونکی کرکټر په شاعر او دهغه پهرښتوني وجود محمول کوو نو شاعر که خوشحال ختک وي رحمان، حميد يا کاظم خان شېدا وي؛ دا فنپاره خو به زمونږ د لذت او نشاط سبب جوړېږي مګر شاعر که څوک انګرېز يا مغل يا زمونږ کوم بل قامي مخالف وي نو د هغه له هنر څخه د څه حظ په اخذ کولو کې به زمونږ دغه د سوچرښتينواله خامخا مزاحمت کوي، په دې لحاظ په ټولو هنري ښايستونوښکلې يوه فنپاره او بله فنپاره به زمونږ په نظر کې په ناجايز ډول تجزيه کېږي -

اوس سوال دا راپورته کېدی شي چې که يوه فنپاره زمونږ د حقيقي او ټولنيز مطابقت د غوښتنو په وجه د خپل افاقي او عالمګير حيثيت، لطف او سرور څخه محرومه کېږي نو بيا هغه کوم تکنيک دی چې د هغې په مرسته فنپاره د خپل پرلطفه افاقي حيثيت نه محرومه همنه شي او د ذوق په حواله د تقسيم او تفريق د ستم نه هم بچ شي، چې په دې توګه يوه فنپاره يعني د هندو او مسلمان، سيک او پښتون په شمول د همه ګير سماجي تقسيم د سوچ نه په ازادډول خپل بې طرفه جمالياتي او هنري اغېز په مونږ ومنلی شي؟

وبه وايو چې کوم څيز د هيچا نه وي هغه د هر چا وي چونکې زمونږ په حقيقي ژوندکې نن مهال هر څيز د دعوې او ملکيت په اساس يو چاته منسوب دی؛ مګر فنپاره يا د هغې مندرجات چاته منسوبنه وي ځکه چې هغه کوم حقيقيپوله او پتیٔنه وي بلکې صرف خيال وي - د شاعر په شمول هغه ټول اجزا چې ددې خيال برخه وي ظاهره ده ټول بايد فرضي او خيالي غړي وي - د فنپارې د مثاليت ښېګړه دا وي چې که د يوې فنپارې خيال يا په اجزاوکې يوجز حتی يو نوم په اتفاقيډول د چا حقيقي او سماجيحيثيت ته منسوب شي نو هغه په فنپارې د ،خپل سماجي سپکاوی زيان او نقصان دعوه کولی شي، ځکه ترممکنه حده کوشش پکار وي چې د فنپارې کُل او جُز هرڅه فرضي او تخيلاتي وي - هرکله چې يوه فنپاره په خپل ماهيتکې په مکمله توګه تخيلاتي وي دا به په دې معنا وي چې دا فنپاره د هيچانه ده هرکله چې د يوې فنپارې په بارهکې دغسې سوچجوړ شوی او مروج شوی وي نو بيا هغه فنپاره هر څوک په فرضيډول د خپل ځان، خپل وجدان او خپل احساس او ادراک برخه ګڼلی شي - په داسې فنپارې بيا قاري او شاعر هم دا دعوه کولی شي چې وجداني طور دا زمونږ هم برخه ده ، يا مونږ هم ددې فرضي فني صورتحال برخه يو - په دېتوګه فنپاره په خپل افاقيحيثيت کې د هرچا وګڼلی شي او د يوې فنپارې د حظ او مسرت چې کوم اصل صورت او سيرت وي هغه په دغه افاقيتکې مضمر دی او د داسې يوې فنپارې له کبله په فنکار باندې بيا د څه قسمه مسؤليت همنه وي.

دا چې مونږ په خپلچاپېريال کې وينو چې بعضې خلق شاعرانو ته يا په ټولهکې فنکارانو ته دټولنيزيمذهبيږ يا ، شريعي حوالې نه بعضې مسؤوليتونه منسوبوي او فن او فنکار يعني د فنکار رښتونی ټولنيز وجود تورنوي نو هغوي اصلًا د فنپارې او فنکار دغه خيالي او فرضيحيثيت نه پېژني - هغوي له فنپارې څخه حقيقي غوښتنې او توقعات لري او دا د فنکار او فنپارې په بارهکې صريحًا غلط او مجهول ردعمل دی -

زه دا منم چې د يوې فنپارې شاته د فنکار يو زبردست ذهني قوت فعال وی - دا ذهني قوت مونږ او تاسو د تخيل يا امېجينېشن په نوم پېژنو ـ ددې قوت په مېچنهکې هر څه دلېږي، هرڅه جوړېږي او ورانېږي خو ددې قوت په اختيارکې حقيقتونهنه جوړېدی اونه ورانېدی شي - ځکه چې حقيقتونه يا د حقيقتونو سوچ پهټولنه کې پيدا کېږي - تخېل چونکې ذاتي ذهني قوت دی ځکه دا حقيقتونهنه پېدا کولی اونه يې ماتولی شي په دې اساس حقيقت د تخيل خام مواد همنه جوړېږي - په دې اساس فنپارهکې چې څه وي، هغه څه وي چې د شاعر ذات مواد وي - د شاعر يا فنکار د تخيل دا ذاتي او محدود ذمه دارانه حېثيت مونږنه دیجوړ کړی؛ بلکې تاريخجوړ کړی دی او په تاريخکې دا د هاغو انساني زمانو سره تعلق لري کله چې بنيادم د حقيقتونو د تقسيم او تعين زمانو ته راننولینه و - ځکه تخيل نن هم د حقيقتونو د تعين سره څه قسمه سروکارنه لري ـ شاعر هم ددغه ذهني قوت په ذريعه فنپارهکې په تخيلاتيډول د خپلو ذاتي جذبو او احساس سره شريک شوی او دټولنې نه پهازادې ذاتي ټولنې کې يې هغه څه د فرضي کردارونو په ذريعوويلي وي کوم چې د سماج په بارهکې د شاعر ذاتي خيال وي -

دا د هنر او هنرکار په بارهکې يوه هغهابتدايي خاکه وه چې زمونږ د راروان بحث د پاره به د تمهيدحيثيت ولري - مخ په وړاندې به مونږ په دغه تسلسلکې د هنر نورو ښانکو ته داخلېږو او هلته به د هنرکار په هنري تشخص بلوسه کوو -

**پای**

---

## شېرين اکا (لنډه کيسه)

سيد ادريس سادات

د ماښام اذان وشو، سپوږمۍ ښکلی مخ د اسمان په پلو کې راڅرګند کړ. د کلي په بر سر کې د اوبو شړها خته. شېرين اکا د سيند غاړې ته ونې لاندې ناست و. مخې ته يې ګڼ شمېر ماشومان د کړۍ په شکل ناست وو او لاسونه يې سره اور ته تودول، د انسانانو خاموشي وه، چېرته چې به په ونه کې د کوم لړې ځاى مرغۍ خپلې کورنۍ ته ځان را ورساوه نو بچو به يې د خوشحالۍ نارې وهلې.

شېرين اکا ټولو ماشومانو ته د احمدشاه بابا د وخت د پښتنو کيسه شروع کړې وه او ټولو ماشومانو ورته ډېر په بې صبرۍ غوږ نيولی و.

شېرين اکا وويل:

- احمدشاه بابا په هند نهه ځلي يرغلونه کړي دي؛ مګر په ټولو کې يې کامیابه جګړه د پاني پت وه چې د مسلمانانو د ژغورلو لپاره يې کړې وه چې پکې د مرهټه و او سکانو نوي زره سرې په خندقونو کې پراته وو، هغه د وېرې، تورتم او حيرانۍ ورځ وه. د مړو پر جسدونو د اسمان بازانو دورې وهلې.

احمد خان يو شمله ور او هوښيار سړی و. تکه توره ږيره يې درلوده. د نادر په پوځ کې يې زده کړې کړې وې. ده افغانان سره يو کړل او يو خپلواک دولت يې د ځان او ټولو افغانانو لپاره جوړ کړ.

شېرين اکا همدومره خبرې وکړې، نور يې خپله امسا او ځادر له ځانه سره اوچت کړل او د کور پر لور روان شو. دا وخت ساحل د شېرين اکا خوا ته ورغی، ځينې ويې پوښتل:

- بابا! احمدشاه بابا اوس هم شته؟ زه هم غواړم، د هغه په پوځ کې شامل شم او د لوی افغانستان لپاره وجنګېږم، غواړم چې له احمدشاه بابا سره يو ځای هندوستان بيا فتح کړم.

شېرين اکا د ساحل پر سر لاس کش کړ او ورته يې وويل:

- اوس ستاسې وخت دی بچيه! ته خپله له ځانه احمدشاه بابا جوړ کړه او هندوستان فتح کړه.

ساحل کور ته لاړ، د بابا ټوله کيسه يې مور ته وکړه. مور يې ورته يو سوړ اسوېلی وکيښ او ورته يې وويل:

- بچيه ويده شه! څوک چې د داسې افغانستان هيله لري؛ هغه په دې وطن کې ژوندی نه شي ګرځېدای، غلی کرار څمله. سبا غره ته ځې او خسو راوړلو ته تکره شه.

ساحل لاړ، په خونه کې کرار ويده شو. يو وخت يې مور پرې غږ وکړ:

- ساحله زويه! وه ساحله زويه! پاڅه! مور درنه ځار شه! ټول خلک يو ساعت وروسته غره ته روانېږي، ته تر ټولو مخکې لاړ شه؛ ځکه ته کشر يې او بيا به دې څوک کومې ونې ته نه پرېږدي چې خس راټول کړې.

ساحل پاڅېد، اودس او لمونځ يې وکړ، له لمانځه وروسته يې زړه کچره له کوره راوويسته. انتخاب هم ځان چمتو کړی و، انتخاب په کچرې سپور او ساحل ورسره په پښو روان شو. مور يې دروازه کې ولاړه وه، د دعا لاسونه يې بچو ته لپه کړل. کله چې يې بچي تر سترګو پنا شول؛ مور يې هم کور ته ننوته.

ياد غره ته به هره ورځ ساحل تر ټولو مخکې ته چې خلک راځي او رڼا خورېږي؛ نو دوی به ټول کار ختم کړی وي او بېرته به کور ته راځي، ساحل له ځانه سره يو پټکی، لږ څه پياز او وچه ډوډۍ هم وړه او هر کله چې به يې کار ختم کړ؛ نو سهارنۍ به يې په غره کې کوله. ساحل د نورو خلکو تر راتګ مخکې خس راټول کړل. په دې ورځ تر ټولو خلکو مخکې د ساحل تره اباسين اکا راغی، ساحل غره ته نږدې د يوې ونې لاندې ځادر هوار کړ، انتخاب يې له کچرې راکوز کړ، له ځانه سره يې کېنوه، رڼا هرې خوا ته خوره شوې وه، ونه د لوی سيند خوا ته ولاړه وه. همدا سيند د کلي تر څنګ ښکته شوی و چې د اوبو شړها يې د مست ځوان مستي انسان ته وريادوله. دوی همدلته ښه په سړه سينه ډوډۍ وخوړه او د بېرته تګ چمتوالی يې ونيوه؛ خو يو ناڅاپه د ساحل تره اباسين اکا له غره نه لاندې کلي ته منډه کړه. ساحل پرې غږ وکړ:

- ولې کاکا څه وشول؟

اباسين اکا د ساحل خوا ته ورغی او داسې يې ورته وويل:

- د روسانو طيارې راغلې او اوس به لاندې ټول کلی بمبار کړي.

ساحل لا تر اوسه ماشوم و او د طيارو په ليدو پرې رپ ولګيد، په دردناک وېريدلي او ژړېدلي غږ يې وويل:

- يا الله خير.

انتخاب ته يې وليدل، ګورې چې په کلاره او آرامه لګيا دی، ډوډۍ خوري. تر سترګو يې څو غټ غټ څاڅکي ولوېدل. په منډه ورغی، انتخاب يې په غېږ کې ونيوه او په روانو اوبو کې يې په خدای وسپاره. په دومره وخت کې د الوتکو فکر د ساحل خوا ته شو او د کلي له بمبارولو مخکې د ساحل پر لور برابرې شوې.

ساحل د طيارو له وېرې د ځنګله منځ ته ننوت، په مخ يې د وېرې او ژړا خوله راماته وه او داسې يې ژړل چې د يوه کلک زړي انسان هم پرې رحم راته. د ساحل اکا هم لاندې کېوتی و او ساحل بېخي يواځې و. ساحل په ځنګله کې منډې وهلې او د الوتکو نظر هم صرف په ساحل و. په ګڼو ونو کې يې منډې وهلې او د الوتکو مرميو د ونو پاڼې سورۍ کولې.

ساحل د ځنګله هغه بل سر ته ورسېد. نور هېڅ هم نه وو. ساحل مخ د الوتکو خوا ته واړاوه. دواړه لاسونه يې د بخښنې غوښتونکي په څېر الوتکو ته ونيول او هم ورته په ګونډو شو. تر شنو سترګو يې د معصوميت اوښکې بهېدې. نور د تللو وس يې نه و؛ ځکه چې په پښه او په لاس لګېدلی و. د يو ګټ شاته پرېوت. وينه ترې روانه وه. ساحل په دغسې حالت کې پوره يو ساعت تېر کړ. د خوراک او څښاک چې څه هم ورسره وو؛ ټول ختم شول. د ډېرې وينې له ضايع کېدو په غره کې سا ورکولو ته نږدې و چې مور يې ور ورسېده.

دی د کوچني ورور په روغ ليدو خوښ شو او له مسکا په ډکه څېره يې له دې نړۍ سترګې پټې کړې او ولاړ.

اخري خبره يې مور ته دا وکړه:

- مورې! که چېرته دې احمدشاه بابا وليد؛ نو ضرور ورته د نازولي او زړور زوی ګيله وکه او ورته ووايه چې په دومره کم عمر کې مې په زوی دومره سخت ظلم تېر شو.

له دغو خبرو سره ساحل څو سختې سلګۍ ووهلې او کوچ يې وکړ.

انتخاب روکی (ورور) يې اوبو کور ته ژوندی رسولی و. دا مهال باران شروع شو، د ساحل مور او ورور د ساحل جسد ته ښه ډېر وژړل او دې ظالمانو کفارو ته يې د زړه له تله ښېراوې وکړې او دا يې ټولو افغانانو ته وويل:

- ای افغانانو! خدای که هر وخت توان او قوت درکړ؛ نو زما د ساحل بدل ضرور ورنه واخلئ، دا ځکه هغو زما ګل په ډېر تېرې او بې موجه مړ کړ.

**پای**

---


ZERAI

Afghanistan Science Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Dr. Muhammad Ishaq Khawreen

**Assistant:**
Assistant Prof. Pashtoon Pashtoon

Compose and Design:
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages and Literature, Institute of Pashto Language and Literature (ASA) Shahr - e - Now Kabul, Afghanistan
**Contact:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com